NHS

UK Health Security Agency

## د واکسیناسیون په هکله یو لارښوونه

# د یوه کال په عمر کښې



له فبروري 2022 کال راهیسته د واکسیناسیون ځانګړنې

immunisation
the safest way to protect your child

# د ماشوم د واکسیناسون برنامه

په یاد ولرئ چي باید هر اپواینټمنټ ته د واکسیناسیون خپل سورکتاب له ځانه سره راوړئ.




د دغو کتابګوټو کابیانې تاسي له خپل کلینک یا ډاکټر سرجري څخه ترلاسه کولای سئ دلته یې هم وګورئ www.nhs.uk/vaccinations

په لیفلیټ کښې د 2022فبروري څخه د واکسیناسیون ځانګړنې شته

# لنډیز

## زما ماشوم به په یوکلنۍ کښې کوم واکسیناسیون اخلي؟

ستا ماشوم ته به 4 پیچکارۍ ورلګول کېږي د یوکلنۍ د واکسیناسیون د ورتګ پر مهال په ګډون د:

- د هغوی د **MenB** بوستر واکسیناسیون
- یو **Hib/MenC** واکسیناسیون پرضد د:
  - Hib (هایموفیلوس انفلوینزا ټایپ ب)، او
  - مېنینګوکوکال ګروپ سي ناروغي (MenC)
- یو **PCV13** بوستر واکسیناسیون پرضد د:
  - نیومکوکال ناروغي چي د نیومکوکال باکټریا له لاسه پېښېږي
- د هغوی ړومبنی **MMR** واکسیناسیون پرضد د:
  - شری
  - ممپس یعني ټنډربوزی
  - روبیلا یعني سرې دانې



# په یو کلنئ کښې واکسیناسیون

## د Hib ، میننګوکوکل ګروپونو B او C ناروغۍ، د نیوموکوکل ناروغۍ، شری، ممپس او روبیلا په وړاندې ساتنه

### Hib څه شی دی؟

Hib یو انتان دی چې کولای شي د یو شمیر لویو ناروغیو لامل شي لکه مننژیتس (د دماغ د استر التهاب)، سیپټیسیمیا (د وینې مسمومیت) او سینه بغل، په ځانګړې توګه په کوچني ماشومانو کې.

د Hib/MenC واکسین د Menitorix په نوم یادیږي، تاسو کولای شئ د ناروغ معلوماتو پاڼی وګورئ دلته
.www.medicines.org.uk/emc/product/167/pil

### مننګوکوکال څرنګه ناروغي وي؟

مننګوکوکل ناروغي یو جدي انتان دی چې کولای شي په ماشومانو او ځوانانو کې د مننژیتس او سیپټیسیمیا لامل شي.

د B ګروپ مېننګوکوکل باکټریا (MenB) اوس مهال په انګلستان کې د مېنینګوکوکال ناروغۍ د ډېرو پیښو لامل دي، پداسې حال کې چې د مېنکوکوکال ګروپ (MenC) C ناروغي اوس غیر معمولي ده ځکه چې ډېری کوچني ماشومان او تنکي ځوانان په منظم ډول د MenC پروړاندې واکسین کیږي.

د MenB واکسین د Bexsero په نوم یادیږي، تاسو کولای شئ د ناروغ معلوماتو پاڼې وګورئ دلته
.www.medicines.org.uk/emc/product/5168/pil

## کوم واکسینونه به وکارول شي؟

ستاسو ماشوم به د Hib/MenC واکسین او همدارنګه د MenB واکسین یو مشترک بوسټر دوز ولري. دا واکسین به د ورانهٔ یا مټ په پورتنیو پلو یعني عضلاتو کې ورولګول شي.

## زما ماشوم بوسټر واکسین ته ولې اړتیا لري؟

بوسټر واکسیناسیون د هغه خوندیتوب د زیاتولو لپاره ورکول کیږي چې مخکې له مخکې د هغه واکسینونو په واسطه ورکړل شوي دي چې ستاسو ماشوم ته پخوا ورلګول شوي ول. د ماشومانو د واکسینونو لخوا ترلاسه شوی خوندیتوب له یو څه وخت وروسته له مینځه تللای شي. بوسټر ډوز د خوندیتوب د پاته کېدلو موده نوره غځوي.

## ایا د Hib/MenC او MenB واکسینونه کومې اړخیزې اغیزې لري؟

ستاسو ماشوم ممکن د پیچکارئ پر ځای باندي سوروالی، پړسوب یا نرموالی ولري. نږدې نیمایي ماشومان چې واکسین لګوي ممکن خارښ ورباندي ولګېږي، او ځینې یې معتدله تبه هم لري. تاسو کولای شئ پدې اړه نور معلومات له خپل جي پي، پریکټس نرس یا هیلت ویزیټور څخه ترلاسه کړئ.



## د نیوموکوکال ناروغي څه شی وي؟

د نیوموکوکال یا سینه بغل ناروغي په ماشومانو کې د باکتریایی مننژیتس یو له عامو لاملونو څخه دی مګر دا د سیپټیکیمیا، سینه بغل، د غوږ انتان (اوټایټس میډیا) او نورو سختو ناروغیو لامل هم کیږي. د نیوموکوکال باکتریا تر 90 زیات مختلف ډولونه لري.

## کوم واکسین به وکارول شي؟

کارول کېدونکي واکسین د PCV13 یو بوسټر خوراک دی (د نیوموکوکل کنجوګیټ واکسین) کوم چې د هغو 13 مختلفو نیوموکوکال ډولونو پروړاندې خوندیتوب ورکوي چې ډیری وختونه په ماشومانو کې د نیوموکوکال ناروغۍ لامل کیږي. دا واکسین به د Hib/MenC واکسینونو په څیر پر ورانهٔ یا د مټ پورتنیو عضلاتو کې ورلګول کېږي.

## ایا د PCV واکسین کومې اړخیزې اغیزې لري؟

له هغو 10 ماشومانو څخه چې واکسین شوي دي، 1 یا 2 ممکن د پیچکارئ پر ځای باندی پړسوب، سوروالی یا نرموالی یا نرئ تبه ولري. د PCV واکسین د Prevenar 13 په نوم یادیږي، تاسو کولای شئ د ناروغ معلوماتو پاڼی وګورئ دلته .www.medicines.org.uk/emc/product/453/pil

## شری څه شی دی؟

شری د یو ډیر ساري ویروس له لاسه پیدا کیږي. نږدې هرڅوک چې په دې اخته کېږي هغوی به لوړه تبه، خارش لري او معمولاً به ناروغ وي. د شري په مشکلاتو کې د سینې انتانات، دورې، انسیفلایټس (د دماغ انفیکشن)، او د دماغ زیان شامل دي. په ډیرو جدي حالتونو کې، شری یوڅوک وژلای شي.

## ممپس يعني ټنډربوزى څه شى دى؟

ممپس يعنى ټنډربوزى د ويروس له لاسه رامينځته كيږي او د تبې، سر درد، او په مخ، غاړې او ژامې كې د دردناك، پړسوب غدود لامل كېدلاى شي. دا ممكن د دايمي كڼېدلو، ويروسي مننژيتس او انسفلايټس (د دماغ التهاب او پړسوب) پايله ولري.

## ربيلا يعني سرې دانې څه شى وي؟

روبيلا (جرمنى شرى) يوه ناروغي ده چې د ويروس له امله رامينځته كيږي. په ماشومانو كې دا معمولاً معتدل وي او د پام وړ نه ګرځي. خو په اميندوارۍ كې روبيلا د نازېږېدلو ماشومانو ته خورا جدي وي. دا كېدلاى شي د دوى ليد، اوريدلو، زړه او دماغ ته جدي زيان ورسوي. دا حالت د كونجينټل روبيلا سنډروم (CRS) په نوم ياديږي.

## MMR واكسين څرنګه وي؟

دا د ژونديو شرى، ټنډربوزى او روبيلا ويروسونو كمزوري بڼې لري. ځكه چې ويروسونه كمزوري كړل شوي وي، نو هغه خلک چې واكسين لګوي نور خلک نشي پرې اخته كولاى. په انګلستان كې موږ د MMR دوه ډوله واكسينونه لرو. دواړه ډير ښه كار كوي، يو يې پورسين يعني له سوور څخه ترلاسه شوي جيلاټين لري او بل يې نهٔ لري. كه تاسو غواړئ چې ستاسو ماشوم د پورسين جيلاټين څخه پاک واكسين ولري، نو له خپل پريكټس نرس يا جي پي سره خبرې وكړئ.

## دغه واكسين څرنګه او كله وركول كيږي؟

دغه واكسين د ورانهٔ يا مټ په پورتنيو عضلاتو كښې پيچكاري كيږي. دا د يو كال په عمر كې ورلګول كيږي وروسته له دې چې د ماشوم د مور څخه ترلاسه شوى خونديتوب كمزورى كيږي. مخكې له دې چې ستاسو ماشوم په شاوخوا 3 كلونو او 4 مياشتو كې ښوونځي پيل كړي د واكسين دوهم ډوز بايد يو ځل بيا وركړل شي.

## د MMR واکسین څومره اغیزمن دی؟

د MMR واکسین په 1988 کې په انګلستان کې له معرفي کېدلو راهیسته په کمکیو ماشومانو کې د دې 3 ناروغیو له مینځه وړو لپاره مسؤل دی.

## ایا د MMR واکسین کومې اړخیزې اغیزې لري؟

په واکسینو کې 3 مختلف ویروسونه په مختلف وختونو کې عمل کوي او ممکن له لومړي ډوز وروسته لاندینۍ اړخیزې اغیزې ولري:

- له واکسین کولو څخه 6 څخه تر 10 ورځو وروسته، لکه څنګه چې د واکسین برخه په کار پیل کوي، په هرو 10 ماشومانو کې یو یې ممکن تبه ولري او ځینې یې ممکن د شري په څیر نرم خارش ولري او خپل خوراک پرېږدي.
- په هرو 1,000 واکسین شوي ماشومانو کې یو یې ممکن د تبې له امله دوره ولري. دې ته فېبرایل کنولژن یعني 'تبجن درد' ویل کیږي. په هرصورت، هغه ماشومان چې واکسین شوي نه وي، او په شري اخته کیږي، د دورې 3 چنده زیات احتمال لري.
- د MMR واکسین لګولو نیژدې 3 اونۍ وروسته، لکه څنګه چې د واکسینو د ممپس برخه په کار پیل کوي، ځینې ماشومان ممکن په ندرت سره د ممپس یعنې ټنډربوزي (تبه او پړسېدلې غدې) په څیر علامې ولري

MMR ترټولو خوندي لاره ده

د خپل ماشوم د ساتنې لپاره پر

وړاندې د شری، ټنډربوزي او روبیلا

- په ېبخي ندرت سره، ماشومان ممکن له واکسینو وروسته په 6 اونیو کې د کوچنیو زخمونو په څیر دغمې ولري. دا معمولاً د واکسینو د شري یا روبیلا برخو له امله رامینځته کیږي. که تاسو دا ډول داغونه ووینئ، خپل ماشوم ډاکټر ته وروړئ چې معاینه یې کړي. ستاسو ډاکټر به تاسو ته ووایي چې څنګه د خارش چاره وکړئ او په راتلونکي کې خپل ماشوم څنګه خوندي وساتئ
- د MMR واکسینو وروسته په یو ملیون ماشومانو کې تر یوه هم کم ماشومان ممکن انسفلایټېس (د مغزو خوږ او پړسوب) ولري. خو بیاهم که یو ماشوم په شري اخته شي، د انسفلایټېس د کېدلو چانس په 200 کې یو او په 5000 کې یو ترمنځ دی.

## که زما ماشوم د هګیو سره حساسیت ولري نو بیا؟

د MMR واکسین په خوندي ډول هغو ماشومانو ته ورلګول کېدلای شي چې د هګیو په وړاندې شدید الرجی (انافیلیکټیک عکس العمل) لري. که تاسو کومه اندیښنه لرئ، د خپل هیلت ویزیټور، پریکټېس نرس یا ډاکټر سره خبرې وکړئ.

## ایا د MMR واکسین جیلټین لري؟

په برتانیا کې، موږ د MMR دوه واکسینونه لرو چې ډېر ښه کار کوي. یو یې جیلاټین لري او بل یې نهٔ لري. که تاسو غواړئ داسي واکسین ولګوئ چې پورسین (د خوګ) جیلاټین نهٔ لري، نو له خپل پریکټېس نرس یا جي پي سره خبرې وکړئ. تاسو کولای شئ د MMR واکسین د ناروغ معلوماتو پاڼي په دې ځای کې وګورئ:

**پریوریکس:**

www.medicines.org.uk/emc/product/1159/pil

**:MMRVAXPRO**

www.medicines.org.uk/emc/product/6307/pil

# د منن‌ژیتس او سیپټیسیمیا لپاره لټون وکړئ

منن‌ژیتس او سیپټیسیمیا دواړه خورا جدي دي. که تاسو یې وګورئ نو دا مهمه ده چې تاسو یې نخښې او نښانې وپیژنئ او پوه شئ چې څه وکړئ.

د منن‌ژیتس او سیپټیسیمیا لومړنۍ علامې ممکن د زکام یا زکام ته ورته وي (تبه، کانګې، خارښت او بې ارامي).

خو بیاهم، هغه کسان چې منن‌ژیتس یا سیپټیسیمیا لري هغوی کېدلای شي په څو ساعتونو کې سخت ناروغان شي، نو دا مهمه ده چې د داسي حالتونو نخښې او نښانې وپیژني.



## منژيتس څه شی دی؟

منژيتس د مغزو د استر يو انتان دی. منژيتس د څو ډوله باکتريا او ويروسونو له لاسه پيدا کېدلای شي.

د منجوکوکل باکتريا سره انفيکشن کولای شي د مينژيتس، سيپټيسيميا (د وينې مسموميت)، پيريکارډيتس (د کڅوړې چې زړه پکې وي د استر التهاب) او د ارترايتس (د مفصلونو د پړسوب) لامل کيږي.

په ماشومانو کې، د منژيتس له اصلي نخښو نښانو کښې کېدلای شي دا شامل وي:

- په لوړ غږ، فريادي ژړا
- کله چې يې راپورته کړي نو خواشينی کيږي
- راپورته شوې درازنده
- خوبولی او لږ غبرګون ښودونکی - په ګرانه وېښېدل
- الوېزان او بې سېکه
- د ټکان ورکوونکو حرکتونو سره کلکوالی (خوږ/دورې)
- له خوراکه انکار، کانګې
- پوستکی يې ژېړ، داغدار يا نيل رنګ لري
- تبه

## سیپټیکیمیا څه شی دی؟

سیپټیسیمیا یو ډیر جدي حالت دی کله چې د وینې جریان کښې ګزک پیدا کېږي. د سږو لاسونو او پښو نخښې، د پوستکي زېړ رنګ، کانګې او ډیر خوب یا ستونزمن راویښیدل، کیدای شي په چټکۍ سره راشي. که تاسو د سیپټیکیمیا شک لرئ، نو په عاجله توګه مرسته ترلاسه کړئ.

په ماشومانو کې، د سیپټیسیمیا په اصلي نخښو نښانو کښې کېدلای شي دا شامل وي:

- د ساه اخیستنې چټکې یا غیر معمولي ځمونې
- ژیړ، داغدار یا نیل رنګه پوستکی
- تبه له سړو لاسونو او پښو سره
- لړزېدل
- کانګې او له خوړو بېزاري
- سره یا ارغواني داغونه چې د فشار لاندې نه ورکېږي (په راتلونکې پاڼې کې تشریح کړې د ګلاس ټیسټ وکړئ)*
- د عضلاتو یا غړو شدیدو خوږو یا ګډ درد څخه درد یا ناآرامي
- بې تولې توب
- سخت خوبولی

دا مهمه ده چې په یاد ولرئ چې په هرچا کښې به فهرست کښې راغلې ټولې نخښې نښانې نه راپیدا کېږي. که چیرې په چا کښې ځینې علامې راپیدا شي، په ځانګړي توګه سره یا ارغواني داغونه، نو په عاجل ډول دې طبي مرسته ترلاسه کړي. که تاسو له خپل ډاکټر سره اړیکه نه شئ نیولای، یا د مشورې ترلاسه کولو وروسته بیا هم اندیښمن یاست، نو په خپلې طبعې باور وکړئ او خپل ماشوم د خپل نږدې روغتون بیړنۍ څانګې ته بوځئ.

* په تور پوستکي، د سترګو په جیږمو کښې دننه یا د خولې په تالو کښې یې وګورئ چیرې چې داغونه ډیر څرګند وي



### د 'ښیښې ازموینه'

د اوبو څښلو د شفافې شیشې اړخ پر داغونو باندې ښه ټینګ ونیسئ ترڅو تاسو وګورئ چې دا د فشار لاندې کمېږي او رنګ یې ورکېږي که نه. که دا رنګ بدل نه کړي، ژر تر ژره خپل ډاکټر سره اړیکه ونیسئ.

## زه نور معلومات چیرته ترلاسه کولای شم؟

دا خیریه موسسې معلومات، مشورې او ملاتړ برابروي:

**د منن‌ژیتس ریسرچ فاونډیشن**

د وړیا مرستې لاین 3344 8800 080

(د سهار له 9 بجو څخه د ماښام تر 10 بجو د اونۍ په ورځو کې،2],د سهار له 10 بجو څخه د ماښام تر 8 بجو پورې د اونۍ پای او رخصتۍ کښې) www.meningitis.org

**Meningitis Now**

24 ساعته د مرستې لاین388 10 80 0808

www.meningitisnow.org

تاسو کولای شئ له خپل ډاکټر، پریکټس نرس یا هیلت ویزیټو څخه هم مشوره وغواړئ، یا **NHS** ته په **111** زنګ ووهئ.

SCAN ME

**موړپلار او کېررز یعني پالونکي کولای شي د یلو کارت سکیم له لارې د واکسینونو او درملو شکمنو اړخیزو اغیزو راپور ورکړي.**

دا په انلاین توګه ترسره کېدلای شي **yellowcard.mhra.gov.uk** یا د یلو کارت په هاټ لاین باندي **0800 731 6789.** تاسو د QR کوډ هم کارولای شئ یا د یلو کارت ایپ په ډاونلوډ کولو سره.

# له فبروري 2022 څخه د ماشومتوب د واکسین کولو عادي پروګرام

| کله | د کومې ناروغۍ پرضد خوندیتوب | ورکړل کېدونکی واکسین |
| --- | --- | --- |
| د اتو اونیو په عمر | ډیپتیریا، تیتانوس، پرتوسس (شنه ټوخۍ)، ګوزڼ، د هیموفیلس انفلوینزا ډول بی (Hib) او هیپاتیت بی | DTaP/IPV/Hib/HepB یا 6-in-1 واکسین |
| | د مننګوکوکل ګروپ MenB) B) | MenB |
| | روټاویرس ګاسټرونټیریټس[4] | روټاویرس |
| د دوولسو اونیو عمر | ډیپتیریا، تیتانوس، پرتوسس، ګوزڼ، Hib او هیپاټایټس بی | DTaP/IPV/Hib/HepB |
| | نیوموکوکل (13 سیروټایپس) | د نیوموکوکل کنجوګېټ واکسین (PCV) |
| | روټاویرس[4] | روټاویرس |
| د شپاړسو اونیو عمر | ډیپتیریا، تیتانوس، پرتوسس، ګوزڼ، Hib او هیپاټایټس بی | DTaP/IPV/Hib/HepB |
| | MenB | MenB |
| یو کلن<br>د ماشوم په لومړۍ کلیزه یا له هغه وروسته | Hib او MenC | Hib/MenC |
| | د نیوموکوکل بوسټر | PCV |
| | شرى، ممپس یعنی ټنډربوزی او روبیلا (جرمنی شری) | MMR[2] |
| | MenB | MenB بوسټر |
| د مستحقو ماشومانو عمر ګروپ[1] | انفلونزا (هر کال له سپتمبر څخه) | LAIV[2,3] |
| درې کاله او شپاړس اونیو عمر یا له هغه ژر وروسته | ډیپتیریا، تیتانوس، پرتوسس او ګوزڼ | dTaP/IPV |
| | شرى، ممپس یعنی ټنډربوزی او روبیلا | MMR (لومړی ورکړل شوی ډوز چیک کړئ) 2 |
| هغه هلکان او نجونې چې عمرونه یې له دولسو څخه تر دیارلس کلونو پورې وي | هغه سرطانونه او تناسلي مرخیړي چې د ځانګړي انساني پاپیلوما ویروس (HPV) ډولونو له امله رامینځته کیږي | HPV (دوه ډوزونه د 6-24 میاشتو په واټن) |
| څوارلس کلن (د ښوونځي 9 کال) | تیتانوس، ډیپتیریا او پولیو یعنی ګوزڼ | Td/IPV (د MMR حالت وګورئ) |
| | د مننګوکوکل ګروپونه A، C، W او Y | MenACWY |

[1] په www.gov.uk/government/publications/influenza-the-green-book-chapter-19 یا www.nhs.uk/conditions/ vaccinations/child-flu-vaccine. [2] کې ګرین بوک څپرکی 19 وګورئ. کمزوری کړل شوې ژوندی انفلونزا واکسین (LAIV) او د MMR واکسین له دوه برانډونو څخه یو د پورسین جیلاټین لري. [3] که چیرې LAIV (د انفلونزا کمزوری کړل ژوندی واکسین) له خنډ سره مخامخ شي او ماشوم د کلینیکي خطر ګروپ کې وي، نو د غیر فعال فلو واکسین وکاروئ. [4] د روټا ویروس له ورکولو مخکښې د SCID سکرینینګ پایله وګورئ

# د هغو کسانو لپاره اضافي واکسینونه
# چې د اساسي طبي حالات لری

| طبی حالت یعني ناروغي | د ناروغیو په وړاندې خوندیتوب | واکسین چې پکار دی |
|---|---|---|
| اسپلینیا یا د توري خرابی (د سیکل سیل او سیلیک ناروغۍ په شمول) | د مننګوکوکل ګروپونه A، B، C، W او Y<br>نیوموکوکل<br>انفلوینزا | MenACWY<br>MenB<br>PCV13 (تر لسو کلونو پورې) 3<br>PPV (له دوه کلنۍ څخه)<br>د انفلوینزا یعنی زکام کلنی واکسین |
| د کوکلیر امپلانټونه یعني پیوندکاري | نیوموکوکل | PCV13 (تر لسو کلونو پورې) [3]<br>PPV (له دوه کلنۍ څخه) |
| اوږدمهاله ساه اخیستني او د زړه ناروغي (لکه شدیده ساه لنډي، د سږو اوږدمهاله ناروغي، او د زړه بندیدل) | نیوموکوکل<br>انفلوینزا | PCV13 (تر لسو کلونو پورې) [3]<br>PPV (له دوه کلنۍ څخه)<br>د انفلوینزا یعنی زکام کلنی واکسین |
| اوږدمهاله عصبي ناروغیانې (لکه د پارکینسن یا د موټرو نیورون ناروغي، یا د زده کړې معلولیت) | نیوموکوکل<br>انفلوینزا | PCV13 (تر لسو کلونو پورې) [3]<br>PPV (له دوه کلنۍ څخه)<br>د انفلوینزا یعنی زکام کلنی واکسین |
| شکره | نیوموکوکل<br>انفلوینزا | PCV13 (تر لسو کلونو پورې) [3]<br>PPV (له دوه کلنۍ څخه)<br>د انفلوینزا یعنی زکام کلنی واکسین |
| د پښتورګو اوږدمهاله ناروغي (CKD) (د هیموډالیسس په شمول) | نیوموکوکل(څلورمه او پنځمه مرحله CKD)<br>انفلوینزا(مرحله 3، 4 او 5 CKD)<br>هیپاټیټس بی (په څلورمه او پنځمه مرحله CKD) | PCV13 (تر لس کلنۍ پورې) [3]<br>PPV (له دوه کلنۍ څخه)<br>د انفلوینزا یعنی زکام کلنی واکسین<br>هیپاټیټس بی |
| د ینې اوږدمهاله ناروغیانې | نیوموکوکل<br>انفلوینزا<br>هیپاټیټس اې<br>هیپاټیټس بی | PCV13 (تر لس کلنې پورې) [3]<br>PPV (له دوه کلنۍ څخه)<br>د انفلوینزا یعنی زکام کلنی واکسین<br>هیپاټیټس اې<br>هیپاټیټس بی |
| هیموفیلیا | هیپاټیټس اې<br>هیپاټیټس بی | هیپاټیټس اې<br>هیپاټیټس بی |
| د ناروغۍ یا درملنې له امله د خوندیتوب کمښت[2] | نیوموکوکل<br>انفلوینزا | PCV13 (تر لس کلنې پورې) [3]<br>PPV (له دوه کلنۍ څخه)<br>د فلو یعنی زکام کلنی واکسین |
| کمپلیمنټ یعنی د وینې د مدافعت بې قاعدګیانې<br>(د هغو کسانو په شمول چې د کمپلیمنټ د مخنیوی درملنه ترلاسه کوي) | د مننګوکوکل ګروپونه A، B، C، W او Y<br>مننګوکوکل<br>انفلوینزا | MenACWY<br>MenB<br>PCV13 (تر لس کلنې پورې) [3]<br>PPV (له دوه کلنۍ څخه)<br>د فلو یعنی زکام کلنی واکسین |

[1] په هر عمر کې چې په شدید مدافعتی فشار کې وي [2]د کورنۍ د هغو غړو او هغو کسانو لپاره چې د دې شرایطو سره د خلکو پاملرنه کوي د انفلونزا کلنی واکسین په پام کې ونیسئ [3] که له دوو کالو څخه تر لسو کلونو کم عمر لرونکي وي او د مننګوکوکل انفیکشن په وړاندې واکسین شوي نه وي یا په جزوي ډول واکسین شوي د PCV13 یو ډوز.

# د ماشومتوب د واکسین کولو غوره کړ شوې برنامه

| ټارګټ ګروپ | عمر او مهالوېش | ناروغي | لازم واکسین |
|---|---|---|---|
| هغه ماشومان چې په هیپاټیتس بی اخته میندو زیږولي وي | د زیږېدلو پر مهال، څلور اونۍ او 12 میاشتې عمر لرې[1,2] | هیپاټیتس بی | Hepatitis B<br>(Engerix B/HBvaxPRO) |
| د هیواد هغه سیمې چې ماشومان پکښې د نري رنځ پېښې لري≤40/100,000 | تر زېږېدلو شاوخوا 28 ورځې وروسته[4] | نری رنځ | BCG |
| هغه ماشومان چې مور او پلار یا نیکه یې په یوه داسې هیواد کې زیږیدلي وي چې پېښې پکښې رامنځ ته سوې وي[3] | تر زېږېدلو شاوخوا 28 ورځې وروسته[4] | نری رنځ | BCG |
| اومیدوارې ښځې | د اومېندوارۍ په هره مرحله کې د فلو یعنی زکام په موسم کې<br>د امیندوارۍ د 16 اونیو څخه[5] | انفلوینزا یعني زوکام<br>پرتوسس | نافعال کړل سوي فلو واکسین<br>dTaP/IPV<br>(Boostrix-IPV) |

[1]د HBsAg لپاره په 12 میاشتو کې وینه واخلئ چې د انفیکشن مخه ونیول سي [2] سربیره پردې 6-in-1 واکسین په 8، 12 او 16 اونیو کې ورکول کیږي [3] چیرې چې د نري رنځ کلنۍ پیښې، – 40/100,000 ≥ دی –وګورئ -gov.uk/government/publications/tuberculosis-tb-by-country rates-per-100000-people [4] د BCG ورکولو مخکښې د SCID د سکرینینګ پایله وګورئ [5] دا معمولا له انومالي سکن وروسته ورکول کیږي

Produced by
**UK Health Security Agency**

© Crown copyright 2022

Pashto 2022QG1PAS 1p 500K JUN 2022
UK Health Security Agency gateway number: 2022590

.This edition first published December 2019

که تاسو د دغه لیفلټ نورو کاپي ته اړتیا لرئ، نو لطفاً دلته یې وګورئ
www.healthpublications.gov.uk چې د
له هیلت پبلیکېشنز آرډر لاین سره اړیکه ونیسئ. Ph1: 0300 123 1002.
Minicom: 0300 123 1003. (د سهار له 8 بجو څخه تر 6 بجو، دوشنبه تر جمعې پورې)

لطفاً د محصول کوډ وکاروئ: Pashto 2022QG1PAS

**www.nhs.uk/vaccinations**